هاري

24/08/2009 واشنګټن

# انتخاباتي رسوايي او خطرناکه عواقب يې

هر څوک چي د جمهوري رياست انتخابات وګټي د مشروعيت او قانونيت له سوال سره به خامخا مخامخ وي. څرګنده خبره ده چي انتخابات نهايت بد اداره سول، بې نظمي ډېره وه، او په راتلونکي کي به حتما سياسي او قومي ستونزي لا ډېري کړي. د انتخاباتو هدف داوو چي د کابل حکومت ته مشروعيت او قانونيت ورکړي ، خو له بده مرغه لا يې ور خراب او لړازنه کړ. په انتخاباتو کي له مخکني اټکل سره سم عامو افغانانو ډېر ه کمه برخه واخيسته. د انتخاباتو په جريان کي،امنيتي وضع تر پخوا لا مغشوشه او خطرناکه وه. په انتخاباتو کي د حامد کرزي دحکومت پرېمانه ټګي برګي د انتخاباتي پروسې ټول مشروعيت او موثريت تر سوال لاندي کړ، او ټول ملک او حکومت يې يو بل انتخاباتي او سياسي بحران ته ور ټېله کړ. اوس، پوښتنه دا ده چي ايا يوازي په هرو پنځو کالو کي يو ځل انتخابات يوه غله او بېکاره حکومت ته مشروعيت او قانونيت ورکولای سي ؟ او که د مشروعيت د ګټلو لپاره کار او خدمت، خيال او فکر، ښه پلان، تکړه ټيم، او کاري سابقه هم ضروري دي؟

په افغانستان کي، زما په ګومان د ايران په شان يو واکمن خو منفور حکومت انتخابات غلا کړل. د احمدي نژاد په تعقيب حامد کرزي هم په انتخاباتو کي د زړه له اخلاصه ټګي برګي وکړه. مګر د ايران او افغانستان توپير پدی کي دی چي که څه هم هلته يوه مذهبي ديکتاتور ي چلېږي، خو يو مستقل سياسي نظام چي پر داخلي عايداتو باندي تکيه لري ، حکومت کوی. ايران د تيلو پيسي لري او چا ته اړ ندی. په بل عبارت، ايران کولای سي چي ووايي: برو کاکا، دلم بايسکلم. مګر د حامد کرزي شرايط ډېر محدود او بين المللي ملاتړ يې نامطمينه دی. هغه د لالا په چاندو، بخشش، او تر ټولو مهم د امريکايي عسکرو د وسلو په زور چلېږي.

بلخوا، ددې سراسري تړاو او وچ مجبوريت په پام کي نيولو سره، ټولو مهمو کانديدانو په انتخاباتو کي د حامد کرزي په ګټه د پراخو درغليو رسمي تورونه لګولي دي. ځينو کانديدانو خو همدا اوس لا په رايو کي د پراخ تقلب په اړه قانع کونکي اسناد او شواهد وړاندي کړيدي. ډاکټر عبدالله چي په اغلب ګومان به په دوهم پړاو کي د حامد کرزي سره مخامخ سي په رايو کي عامه ټګي برګي او له حکومتي منابعو څخه د حامد کرزي په ګټه د کار اخيستلو بېشماره مثالونه يادوي. ډاکټر بشردوست انتخاباتي پروسه کرد سره "ټوکی" بولي، او داسي رايي يې پيدا کړي دي چي اصلامسلسل نمبرونه نلري. دغه راز، ډاکټر اشرف غني، ښاغلي ياسيني او نور کانديدان هم په انتخاباتو کي د حامد کرزي په نفع د جعل کاری الزامونه لګوي. په دننه او بهر کي ازاد مطبوعات هم د حامد کرزي په ګټه راز راز لاسوهني او غلا تاييدوي.

که څه هم د ښاغلي اوباما حکومت هڅه کوي چي انتخابات معتبر او د افغانانو د ازادي ارادې ښکاروندی يې وګڼي، خو عيني شرايط او واقعيتونه ددې ادعا پر خلاف پرېکنده حکم کوي. د اوباما حکومت معذور او مجبوره دی چي انتخابات يوه کاميابي او پرمختګ وبولي، ځکه په بل صورت کي به د يو لړ جدي داخلي او خارجي مشکلاتو سره مخامخ وي. دمګړی په امريکا کي د عامه افکارو نوي سروې ښيي چي اکثره امريکايان د افغانستان په متعلق د اوباما د پاليسيو سره مخالف دي. هغوی همدا انتخابات سم او منصفانه نه ګڼي. په امريکايي مطبوعاتو کي په زياتېدونکي توګه افغانستان او ويتنام سره مقايسه کېږي. افغانستان د اوباما د باتلاق په نامه يادېږي. يو اوږد او بايللی جنګ ورته ويل کېږي. او د افغانستان انتخابات د يوې خطرناکي مرحلي پيل بولي. په انتخاباتو کي تخمينا ۵۰۰ ميلونه ډالره مصرف سول، او دوهم پړاو به څه نوري پيسي هم وغواړي. و به کتل سي چي د اوباما حکومت به تر څه وخت پوری د يوې څرګندي انتخاباتي رسوايي دفاع وکړای سي.

بد مرغي دا ده چي د افغانستان دسياسي نظام اساس په لمړی ورځ په بن کي کوږ او خراب کښېښودل سو. د بن کانفرانس، له جنګي جنايتکارانو ډکي لويي جرګي، او د بش د خاص استازي زلمي خليلزاد پر لاس د امريکا مستقيمي او زيانمي مداخلي د افغانستان سياسي جوړښت له سره لړزانه او د مشروعيت له سوال سره مخامخ کړ. په بل عبارت، د افغانستان مات سياسي هډ بد جوش خوړلی دی. کله چي يو مات هډ بد جوش وخوري، شکسته بندان هغه هډ هرو مرو بېرته ماتوي او له سره يې سم ورولي. د افغانستان بحراني سياسي نظام په ۲۰۰۱ کي د بش، زلمي


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

خليلزاد، شمال ايتلاف، او د حامد کرزي د بد ليډرشيپ او پاليسيو له کبله بد جوش خوړلی دی، دا نظام بايد يو ځل بيا بېرته له سره مات سي څو بېرته سم جوش سره وخوري. کني په بل صورت کي هر څونه هلي ځلي، پيسي، او عسکر عبث او بابېزه کار دي.

بلخوا، د افغانستان جمهوري رياست انتخابات پداسي وخت کي وسول چي په ګرده ملک کي امنيت او سوله نه وه. د نويو امريکايي عسکرو د زياتېدو سره سره، طالبان قريب ۷۰ فيصده خاروي باندي مستقيم او غير مستقيم تسلط او نفوذ لري. يو رپوټ وايي د انتخاباتو په ورځ ۱۳۵ حملي، ګڼ شمېر ځانمرګي بريدونه، بېشماره بمونه ، د کابل په شمول په نورو لويو ښارونو کي منظم جنګونه، او بې شماره تهديدونه وسول. په کندهار کي طالبانو نهه راکټه واورول. په لښکر ګاه کي شل راکټه ولګېدل. په شرق او غرب ، شمال او جنوب کي د امنيتي پېښو خبرونه ورکړه سوي دي. په جنوب غربي او شرقي ولاياتو کي زياتي بې امنی د سيمي اکثريت خلک په انتخاباتو کي له برخي اخيستولو څخه را وګرځول. پدې سيمو کي، د رايو په مرکزونو کي خارجي څارونکي نه ول. په غزني کي، د رايو د يوه کارډ بيه يو ډالر وو.

د ۲۰۰۹ د انتخاباتو يو بل منفي اړخ د کمو افغانانو ګډون وو. په ټول افغانستان کي خو په تېربيا په پښتني سيمو کي د پخواني انتخاباتو په پرتله لږو خلکو رايه ورکړه. په کندهار، هلمند، روزګان، فراه، او زابل کي فقط پنځو او يا لسو فيصدو خلکو برخه اخيستې وه. حتی په کابل کي هم عادي افغانانو په انتخاباتو کي برخه وانه خيسته. د ښځو نه ګډون په ټول هېواد کي څرګند وو. ويل کيږي چي له ۱۷ ميلونو مستحقو رايه ورکونکو څخه فقط دوو يا درو ميلونو خلکو رايي ور کړي دي. د پخوا په شاني د ولايتي شورا ګانو لپاره هم پخواني جهادي قومندانان، جنګسالاران، محلي واکمنان، او د حکومت په ملاتړ مشهور قاچاقبران کانديدان ول. اياد خلکونه ګډون د انتخاباتو مشروعيت نه زيانمن کوي؟

زياتره مبصرين ګومان کوي چي همدا انتخابات به په افغانستان کي روان قومي تاوتريخوالی لا غښتلی او مرګانی کړی. د جنوب او شمال تر مينځ به بدګماني او فاصله لا زياته کړي، او ددې امکان هم سته چي کورنی جنګ يو ځل بيا پيل سي. حامد کرزي او ډاکټر عبدالله دواړو د قومي اخ و ډب په باب خبري کړيدي. د ښورښ او پاڅون تهديدونه سويدي. خو څرګنده خبره دا ده چي په يوه انتخاباتو مشروعيت او قانونيت نه سي تر لاسه کېدای. افغانستان بنيادي اصلاحاتو ته اړتيا لري. يا به د افغانستان په ارتباط د امريکا په پاليسو کي بنيادي بدلون راځي، او يا به په هېواد کي يو معقول او څه پاک سياسي نظام راځي، کني نو په بل صورت کي به افغانستان ضرور د ښاغلي اوباما په ويتنام باندي بدل سي.
والسلام.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de